مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند ۲۰۱۸/۰۱/۰۷

# دا دی باران ودرید

## (د فرید باراني مړینه)

### دویمه برخه

«باراني د پسرلني باران په څير
لږه شيبه ووريد او ژر ودريد»

«د يـخ پـر سر مـي ګل تــه دا ولیکل
د عشق فصلونــه سروکـال نــه لــري

په انسانيت مي چي خپل زړه لږ پوه کړ
پـــه خـدای تـــر اوسه انـدیوال نه لري»

اوس به دواړه مقالي چي ډيري لنډي دي، کټ مټ د ده د مړيني په پار يو ځل بيا را واخلم چي لوستونکي ووينې چي هغه وخت ما ده ته څه ويلي وو:

### ۱ـ له بخارۍ نه ساړه او له زخمونه ګلان، د فريد باراني يو شعر او زما تآثر:

فريد باراني يو پر کاره، خوځنده او جدي ځوان دی، د نورو کارونو تر څنګ يي شعرونه هم په ميډيا کي ډير ځلي غاړه هسکوي. زما يي شعرونه او جديت خوښ دی. د اوس له پاره يي د نورو فرهنګي کارونو په باب څکه څه نه وايم، چي ما ته يي په بشپړ ډول ځرنګوالی نه دی مالوم، خو کوم شعرونه يي چي زما له نظره تير شوي دي، د هغو پر استناد وايم چي شعر يي نوی ښکلا لري او زما خوښ دی. زه فکر کوم چي فريد باراني په شعر کي د خپل فکر د پياده کولو له پاره د لغاتو ډير ښه لښکر لري، داسي لښکر چي د وخت او زمان توپلي نا دودې او ښيګڼي ورته مالومي دي، ښي تجربې يي زده دي او فريد باراني يي د باران د نرمی په ډول داسي په ځای او په وخت کاروي، لکه وستا کار چي په ديوالـه کي د ديوال د سم جګولو له پاره خښتي کاروي.

د ۲۰۱۴ کال د جولای په ۲۱ ام سهار مي د مختکاب په پاڼو کي د فريد باراني يو شعر ولوست. د ده د شعر په لوستلو سره مي د خپل عيني ژوندانه سر ګردانيو، په وطن او نړۍ کي د روانو حالاتو او نا خوالو طوفانونو؛ په مغزو کي شور را پيدا کړ، په رګونو کي مي وينه لړ ګرندۍ شوه او له عادي حالت نه وتلی، بل ډول احساس را ته پيدا شو. د همدغسي شيبي حالت مي په دغو تورو او يو لنډکي شعر سره انځور کړی دی، ننداري ته يي کينئ:

زه دې ته ډير خوشاله يم چي د فريد باراني په شعر کي نوي ترکيبونه، د نوي تکنالوژۍ او اوسني وخت نوموونې، په نوي ترکيب سره، په هنرمندانه ډول د نويو شعري انځورونو په ډول سر اوچتوي. دغه څو ترکيبونه يي په همدې يوه ټوټه شعر کي ما ته نوي ښکاره شول او دا څو انځورونه مي تر اوسه بل چيري نه وو تر سترګو شوي:

**ـ له بخارۍ نه د سړو څڅيدل،**

**ـ ړنګ تحمل،**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولـئ

**ـ اور، اوبه او لوښي د تمسخر خندا کوي،**

**ـ د لمر ساړه هډونه،**

**ـ لا علاجه درد، د ډاکټرانو نا توانې، ډاکټران باید هر څه له سره پیل کړي،**

**او...**

د فرید باراني هنر په دې کې دی چې دی په آزاد شعر کې د ټولنې دردونه او خپل روان سره را نغاړي او په ډېرو لنډو الفاظو او څو تورو کې یې له نتیجې سره د لوستونکو مخې ته ږدي.

ما دا خبره څو، څو ځلې کړې ده او بیا به یې هم وکړم چې استاد صدیق روهي به کله نا کله په ټولګي کې له موږ سره د بحث په ترڅ کې ویل:

«افغانستان د استثنا تو وطن دی، هر څه په کې پیښیدلای شي او...»

او دا تجربې یو وار نه، څو ځلې ثابته کړې ده چې په افغانستان کې د هر څه د پیښیدو امکانات شته. لکه همدا اوس:

ټول هغه څه زموږ په وطن کې کیږي، چې باید نه وای شوي، او ډیر هغه څه نه کیږي چې باید شوي وای. د فرید باراني په یاد شعر کې چې له بخارۍ نه د تودخې په ځای ساړه را ځاخي، دا په افغانستان کې د هغو استثناتو یوه برخه ده چې روهي صاحب ویلې وو.

کله مې چې د مخکتاب په پاڼو کې د فرید باراني یاد شعر ولوست، نو ما هم دشعر په نامه دغه څو توري د کاغذ پر مخ رسم کړل، کیدای شي د دې سر لیک هم استثنا وي:

## له بخارۍ نه ساړه او له زخمو نه ګلان:

**له بخارۍ نه چې ساړه څڅیږي**

**نو له ټپونو نه خندا را څڅیدلای نه شي؟**

**دغه ما نه،**

**دا بل چا نه،**

**دغه روهي راته ټولګي کې ویلي**

**«دغه وطن د استثنا وطن دی**

**دلته هر څه هره شیبه کې پیښیدلای هم شي»**

**دلته لاسونه اوسرونه،**

**پښې اورمیږونه ریبیدلای هم شي**

**«دغه وطن د استثنا وطن دی**

**دلته هر څه هره شیبه کې پیښیدلای هم شي»**

**دا هغه ښار دی چې ښاریان یې رنځوران دي او روغتون نه لري**

**دلته کیدای شي انسانانو نه ماران وزیږي**

**داسې اوه سرې ماران**

**چې په اویاوو خواوو خولې اچوي**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**دغه ماران زموږ مشران دي، کنډوالـــو باندې حکمونه کوي**

**داسې مشران چې قدمو ته يې زلمی وينې توېږي او دوی خاندي ورته**

**او پرې د پاسه قدمونه ايږدي**

**«دغه وطن د استـثـنا وطن دی**

**دلته هر څه هره شيبه کې پيـښيدلای هم شي»**

**دلته کيدای شي بخاری نه ساړه وڅڅيږي**

**دلته کيدای شي له زخمو نه ګلان ووريږي.**

آصف بهاند
هيدرسليف، ډنمارک
د۲۰۱۴ کال د جولای يوويشتمه

د فريد باراني په باب زما دويمه ليکنه:

## ۲ـ د ليونتوب مبارکي:

فريد باراني په دې کم عمر په خپلو شعرونو کې عجب ښکلي، نوي ترکيبونه او تشبيهات جوړوي او کاروي. ما څه موده پخوا د ده په يو شعر باندې، دې ياد داشت اوشعر ته ورته يوه يادونه او يو شعر خپور کړی و.
بيا د مخکتاب د بڼ په يوه څنډه کې د ده يو شعر په مخه راغی. په دې شعر (د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر۲۴مه ) کې هم ما ته ځو نويو انځورونو او نويو ترکيبونو نوې مسکا وکړه. يو څو يې دا دي:

**ـ د ميږيانو د لښکر حسادت،**
**ـ د سترګو تبسم،**
**د ليونتوب د مبارکۍ غوښتل،**
**او...**

باراني په دې شعر کې هم توانيدلی دی چې خپل فکر په نوي انداز سره د نويو او زړو تورو او لغاتو په مرسته د لوستونکومخ کې کيږدي.
د باراني دا شعر مې له دې ترکيبونو سره څو ځلې ولوست، خوند مې ورنه واخيست او ځواب مې يې «د ليونتوب مبارکۍ» باندې ورکړی دی:

## دليونتوب مبارکي:

**د ليونتوب مبارکي خو ما وختي در کړې**

**خو تا لوستلې نه ده**

**په دغه بڼ کې چې اوسيږې**

**جګ غږيږی**

**او په لوړ آواز سندرې وايې**

**په داسې خلکو کې چې غوږ نه لري**

**په ړنو ګوري، کوم يو شی نه وينې**

**ته په کمره ولاړ يې چغې وهې**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**هغوی خود  تا**

**او تا ته ورته کسان**

**څه لیونیان**

**څه با ځاران ګڼي اوس**

**زه لا په دې هم ښه دارېږمه**

**سودا کومه**

**د حقیقت په دې ویلو دې څوک**

**لکه منصور غوندې په دار نه کړي**

**موږه نا چار نه کړي**

**او بیا به سر وهو بس.**

۲۰۱۴ ام کال د سپتمبر ۲۴

د دویمي برخي پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ